سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۲ / ۱۱ / ۰۶

ډیورنډ کرښه او روستۍ پراختیاوې

دوهمه برخه

د سړي جګړې د مهال پشان، نن هم ډیورند کرښه د سیمې او نړیوالو سترو پیښو په برخلیک او پایله کې وتلی ځای لري.
د شلمې پیړۍ په روستیو کې، د پخواني شوروي په مشرۍ د دولتي سوسیالیزم او د معاصرکاپیټالیزم برخلیک، په یوې یا بلې بڼې له دې کرښې رنګ واخیست. یوخوا، د ډیورنډ کرښې په کوزه غاړه د پنجاب پر مرکزیت، مذهبي توندلارو او ترهګرو او په عربي نړۍ کې لویدیځ پلوه هیوادو اوپانګوالي نړۍ، پرکابل د تیري لپاره سنګر ونیو او بلخوا ددې کرښې پر بره غاړه کابل اړ وو، د ځان د دفاع لپاره د پخواني شوروي او ځینو نورو هیوادو په ملاتړ ډده ولګوي. په دغه ټوله موده کې د نړیوالو مخالفو او متضادو ځواکونو شخړه او ټکر د ډیورنډ کرښې پر محور راڅرخیده او د کرښې دواړه غاړو ته پراته ولسونه بې له دې چې د دوی ملي ګټې پکې وي، ددې نړیوال ټکر او غوبل قرباني وو!
نن هم د تیر پشان، د شلمې پیړې د پای او د یوویشتمې پیړۍ نوی ټوکیدلی مذهبي ترهګري او سخت دریځي او بلخوا د نړیوال تمدن لاسته راوړنې او راتلونکې بیله دې چې هلته د حکومتونو څرنګوالی ته زیات ارزښت ورکړل شي، تر ډېره ځایه ددې کرښې پرمحور راڅرخي!
دا چې ډیورند یوه خیالي کرښه او په عمل کې شتون نه لري، دې حالت د کرښې پر محور یو تشه رامنځته کړې چې دا تشه د افغانستان د ټاکلو ستونزو او نه لاسریو له کبله، پنجاب په پوځي او استخباراتي زوراو برلاسۍ، په مذهبي سخت دریځو او ترهګرو ډکه کړې. د ترهګرو او مذهبي سخت دریځو داسې پراخه او وړیا زیرمه، پنجاب نه یوازې په کور دننه د خپلو مخالفینو په وړاندې جنګوي اوکاروي بلکې له دې زیرمې څخه د **مذهبي ملیشو** پټوګه د لروبرو افغانانو د ملي موخو او د بشپړ او یو موټي افغانستان د بیا احیا د مخنیوي او په سیمه کې د خپلو شوونیستي او ملیتاریستي ګټو د بسیا لپاره هم کار اخلي!
همدا مذهبي ملیشه، دوی هندوستان سره د کشمیر پر سرجنګوي او تازه دا چې اوس یې د بلوچستان او سندیش د خپلواکۍ غورځنګونو د ټکولو لپاره هم تر کار لاندې نیولي دي .
بل پلو د کرښې پر کوزه غاړه سیمه یز او نړیوال مذهبي سخت دریځي، د نړیوال تمدن او پرمختګ سره د دوښمنۍ پاللو لپاره د پنجاب ملاتړ ته هم اړتیا لري، ځکه د پنجاب له ملاتړه پرته دوی په یوازې ځان د خپلو موخو لپاره، له دې تشې ګټه نه شي پورته کولای. هرڅونه چې دا سیمه یاغیستان او بې خاونده وي، هومره د ترهګرو د خرمستۍ او فعالیتونو لپاره مساعده ګڼل کیږي.
همداراز په افغانستان کې د ایساف او ناټو ځواکونو شتون چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په پریکړه پاکستان او سیمه کې د ترهګرو د ټکولو لپاره ګمارل شوي، هم د سیمې ځینو هیوادونو او ګاونډیانو ته پلمه په لاس ورکوي چې لویدیځ سره د تربګنۍ او افغانستان سره د بدهواخۍ په لامل له ترهګرو ملاتړ وکړي.
ددې ټولو خبرو پایله دا کیدای شي چې د ډیورند کرښې پر محور، نه یوازې د افغانستان او پنجاب ترمنځ ، بلکې د شاتګ او پرمختګ ځواکونو ؛ د مذهبي سخت دریځو ، ترهګرو او نړیوال تمدن ؛ د سیمې د ځینو هیوادو او لویدیځ ترمنځ، اختلافونه او ناندرۍ راڅرخي او دا کرښه د بیلا بیلو ګټو پر سر د مختلفو ځواکونو د ټکر ځای ګرځیدلای دی!
د پنجاب په ګټه د ډیورنډ کرښې په اړه د امریکایي چارواکو روستۍ څرګندونې چې امریکا یوازې د خپلو ګټو په چوکاټ او د پنجاب د پوخلاینې اوهڅونې لپاره کړي او په هغو کې یې د بل لوري، د لروبرو افغانانو ګټې له پامه غورځولي، نه یوازې په سیمه کې د روان کړکیچ په حل کې مرسته نه کوي، بلکې د ډیورند کرښې پر محور ټولې یادې شوې شخړې او تربګنۍ نورې هم پاروي او هغو ته نوی قوت وربخښي.
د پنجاب د ملاتړ لپاره د امریکا په دریځ کې روستۍ ځلونه ، پنجاب نورهم هڅوي چې پر افغان خاوره د توغندیو په ویشتلو سربیره، په دوه نورو جبهو کې هم له پخوا زیات فعال شي . دا خبره چې د پنجاب په وړاندې، افغانستان خپله خاوره کې ترهګرو ته ځای ورکوي، پنجاب نن سبا په بوټلي خوله کوي. پنجاب د سوات پر ملاله د ترهګرو برید هم له افغان لوري ګڼي چې له شرموونکو درواغو پرته، بل څه نه شي کیدای!
بل پلو پنجاب هڅه کوي، پر افغانانو د ډیورنډکرښې د منلو لپاره د فشار د وسیلې پټوګه، په افغانستان کې دننه د یو شمیر تنګنظرو کړیو ملاتړ ترلاسه کړي.
« د پاکستان د بهرنیو چارو وزیرې حنا رباني کهر د سږکال د فبروري په میاشت کې د کابل د سفر په ترڅ کې د افغان تاجکانو، ازبکو او هزاره وو له مشرانو سره وکتل. وروسته د جولای په میاشت کې د پاکستان صدراعظم راجا

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پروېز اشرف هم په کابل کې د پاکستان د نوي سفارت د پرانستنې مراسمو ته غیرپښتانه مشران وروبلل او له هغوی سره یې خبرې وکړې.
د پاکستاني او افغان چارواکو په وینا د افغان اقلیتونو له مشرانو سره په کابل کې د پاکستان سفیر او دغه راز د پاکستان د پوځ او استخباراتي اداري له خوا هم تماسونه نیول شوي خو دا تماسونه تر ډېره پټ ساتل شوي دي. تاند »
دا چې ټوله نړۍ په یوه خوله وایي چې پاکستان د نړیوالې ترهګرۍ مرکز دی او امریکایي لوړ پوړي چارواکي هم پخپلو خبرو کې هغه نه پټوي او په کراتو یې تاییدوي، بیا د پنجاب لپاره د داسې لوی امتیاز ورکړه، که څه هم هغه یوازې د خبرو په برید کې ده ، د کومو موخو لپاره کیږي؟
افغانانو لپاره د ډیورنډکرښه د دوست او مخالف د مالومولو لپاره د یوه محک حیثیت لري . هغوی چې پر دې کرښه په یو طرفه توګه ، د پنجاب په خوا درېږي او د افغان لوري غوښتنې او ګټې له پامه غورځوي، په هیڅ صورت د افغانانو دوست نه شي پاتیدلای .
البته خپله د افغانانو دریځ په دې اړه ټولو ته څرګند دی . افغانانو له پیل څخه دا کرښه نه ده منلې. ددې کرښې په نه منلو یې مشرانو او عزیزانو، د انګریز او روسته د پنجاب په جیلونو کې په کلونو بندونه تیر کړي او په زرګونو شهیدان یې ورکړي دي.
نن د نومبر په ۵ مه، وزیرانوشورا خپله غونډه کې د هیواد د بهرنیو چارو د وزارت ،هغه لیکلی پیغام تایید کړچې د ډیورنډکرښې په اړه د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د استازي ګروسمن له څرګندونو روسته د اکتوبر په ۲۲ مه، په انګریزي ژبه خپور شوی او پکې راغلي وو، ډیورنډ کرښه افغانانو ته د تاریخي ارزښت وړ کرښه ده. همداراز په انګریزي ژبه خپره شوې دغه خبرپاڼه کې زیاته شوې وه چې « افغان حکومت په همدې دلیل د هر چا لخوا د دغې کرښې د مشروعیت په باب څرګندونې ردوي او هغه بې ځایه بولي. »
په دې توګه افغانان پر ډیورنډ کرښه، د ملي ګټو ضد هیڅ ډول معاملې ته چمتو نه دي!
یادونه :
د یوه محترم دوست د دوه یادونو د ځواب په پلمه چې ددې لیکنې پر لومړۍ برخه یې لیکلې وې، یو څه ویل اړین بولم:
نوموړي دوست، د **روسته او پراختیا** کلمو په اړه خپل نظر لیکلی و.
د روسته او وروسته ویی (کلمه) چې کله د کړول (قید) او کله د ستاینوم (صفت) پټوګه کاریږي، د هغه دواړه بڼې کاریدلای شي، خو **روسته** بڼه یې لنډه او ښکلې ښکاري. دلته ددې لیکنې په سرلیک کې د (پراختیاوې) له ویې څخه چې **ډېرګړی نوم** (plural noun) دی، مخکې راغلی او د ستاینوم دنده ترسره کوي.
د کړول په بڼه چې له کړ (فعل) څخه مخکې راځي، لکه په لاندې بیلګو کې:
زمری له میرویس روسته **راغی**.
ملالی ښوونځي ته روسته **ځي**.
د ستاینوم په بڼه، چې له نوم څخه مخکې راځي، لکه په لاندې بیلګو کې :
روستی **سړی**، میرویس نومیږي.
روستی **پراختیاوې**، د پام وړ دي.
بلخوا (او) د عطف ویې دی چې کله د دوو یا څو نومونو، ستاینومونو او یا د دوو بیلا بیلوعبارتونو او غونډلو (جملو) تر منځ د ارتباط او تړون په موخه راځي. هغه کلمې، عبارتونه او یا جملې چې د (او) په ویې سره تړل کیږي، په ټولو ځانګړنو کې یوشان نه وي، خو یوه نیمه ځانګړنه یې ګډه وي او ارتباط سره لري. لاندې څو بیلګې وړاندې کیږي:
زمری او ملالی دواړه ښوونځي ته ځي.
زمری او بری دواړه ښوونځي ته ځي.
په پورته جملو کې زمری هلک دی او ملالی جینی ده، یوازې ښوونځي ته په تګ کې سره ارتباط لري، نه په نورو برخو کې.
ددې لیکنې سرلیک (ډیورنډ کرښه او روستی پراختیاوې) لیکل شوی او هغه داسې نه دی لیکل شوی، چې وویل شي (د ډیورنډ کرښې روستی پراختیاوې).
دلته د (پراختیاوې) مفهوم د هغو خبرو ، تبصرو ، غندنو ، نیوکو سره تړاو لري چې روستیوکې د ډیورنډ کرښې په اړه په بیلا بیلو رسنیو کې وړاندې شوي، **نه خپله د کرښې د پراختیا ، لویوالي ، ارتوالی او غځیدلو په مانا!**
په پورته سرلیک کې د (او) عطف، ډیورنډ کرښه پخپله موجوده بڼه؛ له تبصرو، څرګندونو، غندنو، نیوکو او لیکنو سره تړي او وصلوي؛ نه دا چې خپله کرښه پراخه شوی او غځیدلې ده!
د لیکنې په سرلیک کې د **پراختیاوې** کلمه د (تبصرو، څرګندونو، نیوکو، غندنو او لیکنو لپاره کاریدلې ده) نه د کرښې لپاره.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کاشکي چې کرښه پراخه شي او تر اباسين پورې چې د افغانانو موخه ده، وغځېږي او لروبر افغانان بيرته په يوه بشپړ او يو موټي افغانستان کې سره يوځای شي!

همدارنګه **پراختيا** چې ستايوالنوم (په عربي کې، مجرد وصف) دی، له (پراخ + تيا) څخه چې (پراخ) ستاينوم او (تيا) روستاړی دی، جوړ شوی دی. پراختياوي يې جمع ده.

ستاينوم (پراخ)، يوازې د ځمکې، واټن او مکان د وسعت لپاره نه استعمالېږي، بلکې د نورو نومونو لکه پژ نوم (ذات نوم concrete noun)، مانا نوم (abstract noun) او ځينو نورو نومونو لپاره د ستاينوم پټوګه کاريدلای شي. څو بيلګې :

د مکان نوم لپاره، لکه: پراخه **ځمکه**، پراخ **هيواد**، پراخ **لوبغالی** ، پراخ هوايي **ډګر** او نور

د ځينو نورو نومونو لپاره، لکه: پراخه **نيوکه**، پراخه **تبصره**، پراخه **غندنه**، پراخ **نظر**او نور

کله چې موږ د (پراخ) ستاينوم د بيلا بيلو نومونو لپاره د ستاينوم پټوګه کارولی شو، همداسې له هغه څخه جوړشوی ستايوالنوم (مجرد وصف، پراختيا) هم په بيلا بيل ډول استعمالولای شو، لکه:

په اضافي ترکيب سره: د نيوکو پراختيا يا پراختياوې، د غندنو پراختيا، د ځمکې پراختيا، د اړيکو پراختيا او داسې نور

په وصفي ترکيب سره: ځمکنۍ پراختيا، روستۍ پراختيا او داسې نور.

پای

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ